# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**2حمل _سال 1402**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان | صفحه


کانال مانش: نزدیک به ۱۹۰ تن در سه روز در سواحل فرانسه نجات یافتند------------------------------------------1

د هامبورگ ښاروال: د مهاجرو ځایولو امکانات مو خپل حد ته رسېدلي----------------------------------------------2

روندا ته د پناه غوښتونکو د استولو په اړه د بریتانیا د کورنیو چارو د وزیرې پر سفر غبرګونونه --------------------4

دوه آلماني وزیران په کاناډا کې د مهاجرت په نظام ځان خبروي----------------------------------------------------5

آغاز پروژه های امتحانی برای محافظت از مرزهای بیرونی اتحادیه اروپا ------------------------------------------7

آزادی 190 شهروند افغانستان از زندان‌های پاکستان----------------------------------------------------------------8


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## کانال مانش: نزدیک به ۱۹۰ تن در سه روز در سواحل فرانسه نجات یافتند

مهاجرنیوز




**پنج عملیات نجات در کانال مانش بین روز های شنبه و دوشنبه انجام شد. در مجموع ۱۸۹ مهاجر که تلاش می‌کردند از سواحل فرانسه به بریتانیا برسند به فرانسه بازگردانده شدند.**

**پرفکتور مانش و دریای شمال فرانسه به روز دوشنبه اعلام کرد که ۴۹ تن در سواحل گرند-فورت فیلیپ، در حدود بیست کیلومتری شهر کاله نجات یافتند.**

**به گفته این منبع، روز قبل در دو عملیات جداگانه، اوایل صبح ۲۵ تن از جمله دو تن که در حالت هیپوترمی قرار داشتند نجات یافتند. نجات یافته‌گان سپس به بندر کاله بازگردانده شده و به پلیس تحویل داده شدند. در مرحله دوم ۴۰ مهاجر نجات داده شده و تحت مراقبت قرار گرفتند. عملیات دوم در اواسط پس از ظهر همان روز انجام شد.**

روز شنبه ۱۸ مارچ، ۲۴ تن در دریا نجات یافتند. به گفته پرفکتور، پس از دو ساعت تحقیق، یک قایق دیگر در دریا به مشکل مواجه شده بود که توسط یک کشتی تجاری شناسایی شد. ۵۱ مهاجر در آن سوار بودند.

مرتبط :مبارزه با مهاجرت غیرقانونی: بریتانیا بیش از ۵۴۰ میلیون یورو به فرانسه کمک خواهد کرد

کانال مانش یکی از پرازدحام ترین کانال تجارتی در جهان است. ترین بخش‌های جهان است. شرایط آب و هوای آن اغلب دشوار است. به گفته پرفکتور سفر کردن از راه این کانال توسط قایق های ناامن و پر بار بسیار خطرناک است.

این در حالی است که عملیات نجات در کانال مانش تقریبا به گونه روزانه ادامه دارد.

قانون جدید مهاجرت

این عملیات نجات چند هفته پس از ارائه قانون محدود کننده مهاجرت توسط مقامات بریتانیایی صورت می‌گیرد، به ویژه، ممنوعیت درخواست پناهندگی برای کسانی که به گونه غیرقانونی وارد کشور شده است را فراهم می‌کند. این تصمیم اخیر دولت انگلستان توسط بسیاری ازسازمان ها "غیر انسانی" تلقی شده است.

بیشتر بخوانید :بریتانیا طرح قانون سختگیرانه تری را علیه مهاجرت غیرقانونی اعلام کرد

هدف این قانون پایان دادن به گذرگاه مهاجران از راه کانال مانش، از فرانسه به خاک بریتانیا است. از چند سال به اینسو عبور مهاجران با قایق های کوچک از کانال مانش افزایش یافته است.

به گفته مقامات انگلستان، بیش از ۴۵ هزار مهاجر در سال ۲۰۲۲ وارد سواحل کشور شده اند. از آغاز سال روان تاکنون ۳۱۵۰ مهاجر از فرانسه به سواحل انگلستان رسیده اند.

## د هامبورګ ښاروال: د مهاجرو ځایولو امکانات مو خپل حد ته رسیدلي

مهاجرنیوز




د آلمان د هامبورګ لومړي ښاروال پېټر چېنچر ویلي دي چې و مهاجرو ته د ځای ورکولو امکانات یې خپل آخري حد ته رسېدلي دي.

د سوسیال دموکرات ګوند غړي او د هامبورګ لومړي ښاروال چېنچر و دغه ښار ته په ډېر لوی شمېر مهاجر ورغلي دي .هغه د سه شنبې په ورځ د اېن تي وي په نوم رسنۍ سره په خبرو کې وویل چې په زیاته له اوکراین څخه زیات مهاجر ورته رسېدلي دي. هغه زیاته کړې ده چې دغه ښار ت ر اوسه تر ۳۰ زرو څخه زیاتو اوکرایني مهاجرو ته ځای ورکړی دی.

چېنچر ویلي دي چې په لوی او زیات نفوس لرونکي ښار کې د مهاجرو لپاره د سرپناوو موضوع صرف د پیسو سره نه ده تړلې. هغه زیاته کړې ده: «موږ یو وخت و مځکو او ودانیو ته اړتیا لرو، چې پکښې انسانانو ته سرپناه برابره کړو.» د دغه ښاروال په وینا لابته په هامبورګ کې تر مخه لا د اوسېدنې د ځایونو کمښت و .هغه ویلي دي چې که آن بعضي مهاجر د خپلو خپلوانو سره په کورونو کې ځای پیدا کړي، نو بیا به هم د هغوی مراقبت په لوړه اندازه پیسو ته اړتیا ولري. هغه غوښتنه کړېده چې دغه مصارف دې د آلمان د مرکز لخوا برابر کړل شي.

د المان د کورنیو چارو د وزارت د معلوماتو پر اساس آلمان په اوکراین کې د جګړې د پیل راهیسې تر یو ملیون څخه زیاتو اوکراینیانو ته ځای ورکړی دی. دغه اوکراینیان پر اوکراین د روسیې د برید وروسته له خپل هیواد څخه مهاجر شوي ول. هامبورګ یوازنۍ ښار نه دی چې د مهاجرو د مراقبت په ترڅ کې د خپلو امکاناتو د کموالي له کبله شکایت

**کوي. د آلمان زیات شمېر نورو ښارونو هم په وار وار د آلمان پر حکومت د ستونزو د هوارۍ لپاره د لا زیاتو هلو ځلو او مرستو ږغ کړی دی .**

## روندا ته د پناه غوښتونکو د استولو په اړه د بریتانیا د کورنیو چارو د وزیرې پر سفر غبرګونونه

مهاجرنیوز




**د بریتانیا د کورنیو چارو وزیرې سوئلا براورمن چې روندا ته د پناه غوښتونکو د استولو په اړه د خبرو لپاره دغه هیواد ته سفر کړی و، د سه شنبې په ورځ بیرته خپل هیواد ته ستنه شوه.نوموړې د خپل سفر په جریان کې د پناه غوښتونکو د یوه کمپ پر وړاندې د خندا له امله له سختو غبرګونونه سره مخامخه شوې .**

**د بریتانیا د کورنیو چارو وزیرې د شنبې په ورځ روندا ته تللې وه تر څو د ختیځې افریقا دغه هیواد ته د پناه غوښتونکو د استولو پر هوکړې له چارواکو سره خبرې وکړي. نوموړې د خپل سفر پر مهال له هغه کمپ څخه لیدنه کړې چې له بریتانیا څخه د استونکو پناه غوښتونکو لپاره جوړېږي.**

میرمن براورمن په دغه سفر کې د روندا د ناوړه اقتصادي او بشري وضعیت ته په اشارې سره خبریالانو ته وویل:« دغه کورونه رښتیا هم ښکلي دي، او په لوړ کیفیت جوړ شوي. نوموړې په خندا وویل:« دا کورونه ښه جوړ شوي، ښه راغلاست او داخلي ډیزاین یې ډیر ښه دی».

براورمن له یوې ټلویزیوني شبکې سره په خبرو کې وویل:« زه ټول منتقدین هڅوم چې له روندا څخه لیده وکړي مخکې له دې چې دوی په ذهن کې متعصبانه قضاوت ولري. فکر کوم د پناه غوښتونکو د دایمي میشتیدنې لپاره به روندا د بریتانیا پر ځای یو برکت وي».

براورمن وویل، له بریتانیا څخه ایستل کیدونکي پناه غوښتونکي به په روندا کې یو خوندي او سوکاله ژوند ولري.

خو لندن ته د میرمن براورمن بیرته ګرځیدل د بریتانوی رسنیو له سختو نیکو سره مخامخ شو. ځینو رسنیو لیکلي چې نوموړې په دغه سفر کې یوازې د ښي اړخې پلوه رسنۍ یې له ځان سره بوولې وه او د بي بي سي په ګډون د لیبرال رسنۍ په دغه سفر کې نه وې.

رسنیو روندا ته د پناه غوښتونکو د استولو په اړه د حکومت پر پلان سختې نیوکې کړې او دا یې یو غیر انساني عمل بوولی.

بریتانیا د تیرکال په اپریل میاشت کې له روندا سره یوه هوکړه لاسلیک کړه تر څو په وړو کښتیو کې تلونکي پناه غوښتونکي دغه هیواد ته واستوي خو په دې برخه کې لومړنۍ الوتکه د بشري حقونو د اروپايي محکمې د حکم له مخې لغوه شوه.

نور لولوئ :<u>د لندن عالي محکمې روندا ته د پناه غوښتونکو استول قانوني و باله</u>

لومړی وزیر ریشي سوناک هم ټینګار کوي چې د ناقانونه کډوالو مخنیوي یې له کاري لومړیتوبونو څخه دي.

له دغو ټولو هڅو سره سره بیا هم له فرانسې څخه بریتانیا ته په وړو کښتیو کې د کډوالو د اوښتو شمیر خورا ډیر شوی. د افغانانو په ګډون له ۴۵ زرو څخه ډیر کډوال تیرکال پر همدغې سمندرې لارې ځانونه بریتانیا ته رسولي.

### دوه آلماني وزیران په کانادا کې د مهاجرت په نظام ځان خبروي

مهاجرنیوز




**د آلمان د داخله چارو وزیره نېنسي فېزر او د کار او روزګار د چارو وزیر هوبېرتوس هایل و کاناډا ته په سفر تللي دي. هغوی غواړي د مهاجرت په تړاو د کاناډا پر سیستم معلومات ترلاسه کړي.**

**کاناډا د خپلې جغرافیې له کبله یو داسي هیواد دی، چې ورته په غیراصولي توګه مهاجرت تقریبا هیڅ ممکن نه دی. خو دغه هیواد د ورته مهاجر کېدو لپاره ځانګړی نظام لري چې په ترڅ کې یې د نړۍ له هر کونج څخه لیوال کسان کولای شي چې د شرایطو په پوره کولو سره کاناډا ته مهاجر شي او هلته ژوند او کار وکړي. د همدغه نظام په تړاو په مستقیمه توګه د معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د آلمان دوه وزیران و کاناډا ته ورغلي دي .**

**د آلمان د کورنیو چارو وزیره نېنسي فېزر او د کار او روزګار وزیر هوبېرتوس هایل په کاناډا کې د دغه هیواد د مسؤلو سیاستوالو سره خبرې اترې کوي. دواړو وزیرانو د دوشنبې په ورځ په پلازمېنه اوتاوا کې له بېلو شرکتونو څخه لیدنه وکړه او د بیلو کاناډایي وزارتونو سره یې ملاقاتونه وکړل. دا په داسي حال کې ده چې د آلمان ائتلافي حکومت په پام کې لري چې په خپل هیواد کې د مسلکي کسانو د کمبود پوره کولو لپاره د قانوني مهاجرت په نظام کې تعدیل او اصلاحات راولي. د دغو اصلاحاتو مقصد و آلمان ته د مسلکي کارګرو راجذب کول او د غېراصولي مهاجرت لپاره بدیل وړاندي کول دي.**

**د آلمان حکومت غواړي چې بهرنیانو ته د «چانس کارډ» په نوم مؤقتي اقامې ورکړي .د شرایطو د پوره کولو په صورت کې بهرني مسلکیان کولای شي چې و المان ته د راتلو ویزه ترلاسه کړي او بیا په آلمان کې په ټاکل شوې موده کې ځان ته کارپیدا کړي. یعني د ویزې تر لاسه کولو لپاره به مخکې له مخکې د کار موندلو او د کار د قرارداد لرلو شرط نه وي**

موجود. البته هغه کسان چې چانس کارډ ولري او په شپږو میاشتو کې په المان کې و ځان ته په کار موندلو کې پاته راشي، نو هغوی به بېرته خپل هیواد ته ستنیږي. د دې تر څنګ به تر کوم وخته چې په آلمان کې وي، خپل ټول مصارف به پخپله پوره کوي او له دولتي ادارو به مالي او نوري مرستې نه اخلي. د آلمان حکومت په دې تړاو د نوو قوانینو مسوده چمتو کړېده، خو دغه مسوده لا تر اوسه و اړونده پارلمان ته د تائید لپاره نه ده وړاندې شوې .

د آلمان هیواد په لوړه اندازه د مسلکي کسانو د کمښت سره مخامخ دی. په دې ترڅ کې په لسونو زره پوستونه خالي پاته دي، ولې چې ورته اړین کارګر نه پیدا کیږي.

## آغاز پروژه های امتحانی برای محافظت از مرزهای بیرونی اتحادیه اروپا

مهاجرنیوز



دو پروژه امتحانی اتحادیه اروپا با همکاری بلغاریا و رومانیا برای مبارزه با مهاجرت غیرقانونی آغاز شده است .

کمیسیون اتحادیه اروپا دوشنبه اعلام کرد: «تقویت مرزهای بیرونی با استفاده از اقدامات نظارتی در مرز بلغاریا با ترکیه یک اولویت مهم است«.

بیشتر بخوانید :برگزاری نشست وزیران اتحادیه اروپا در مورد محافظت از مرزهای بیرونی

در پروژه ای که به روز جمعه آغاز شده، تامین امنیت مرز بلغاریا، کشور عضو اتحادیه اروپا با ترکیه از طریق وسایط نقلیه، کمره ها، سرک ها و برج های مراقبت در نظر گرفته شده است. این اطلاعات را اورزولا فون دیر لاین، رئیس کمیسیون اتحادیه اروپا در گذشته ارائه کرده بود.

یک ماه پیش در طی یک نشست اتحادیه اروپا خبر از این پروژه ها داده شده بود. در آن زمان گفته شد که این پروژه با استفاده از امکانات مالی اتحادیه اروپا، بودجه بلغاریا و مبالغ پرداختی توسط کشورهای عضو تمویل می‌شود.

براساس اطلاعات ارائه شده، در دومین پروژه امتحانی که در رومانیا آغاز شده است، تمرکز بر روی پس فرستادن، مدیریت مرزی و همکاری بین المللی است.

بیشتر بخوانید :اتریش خواهان کمک مالی به بلغاریا برای محافظت از مرز شد

این پروژه ها با حمایت قوی عملیاتی، تکنیکی و مالی کمیسیون و آژانس های مهم اتحادیه اروپا مانند یوروپول و فرانتکس به اجرا در می‌آید.

## آزادی 190 شهروند افغانستان از زندان‌های پاکستان

افغانستان سپوتنیک



وزارت خارجه طالبان از آزاد شدن 190 شهروند افغان از زندان‌های پاکستان خبر می‌دهد.

**به گزارش اسپوتنیک، وزارت امور خارجه طالبان می‌گوید که 190 تن از شهروندان افغانستان به شمول زنان و کودکان از زندان‌های ایالت سند آزاد شده‌اند.**

**ضیااحمد تکل، معاون سخنگوی وزارت امور خارجه این گروه، روز دوشنبه، 20 مارچ، با نشر توییتی از این موضوع خبر داده است.**

**او افزوده است که این افراد به دلیل نداشتن اسناد قانونی از سوی پولیس سند در پاکستان بازداشت شده بودند.**

خبرنامه